


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

---



# عبدالحفیظ « ملیار ـ ساپی »

د نشرنیته : 5 سپتامبر 2024 میلادی

# بیګاه شپه!

بیګاه شپه مې په خوب کی خپل ارمان لیدلی دی
د خیال په پلوشو کی می جانان لیدلی دی

حلقه، حلقه زلفان يې کړل له مخه څنې پورته
دا خط د ډیورند مې په کي وران لیدلی دی

که شرق ؤ او که غرب ؤ له دې ملک په منډو تللي
په تيښته دوتو کی می کاروان لیدلی دی

خوشال او ابدلي وي ميرويس خان سره روان وي
دلر او بر پښتون مې ګډ دوران لیدلی دی

خپل واک وي خپل اختيار وي ،غليمان په ګنډو شوی
له اوښکو دخوښيو مې باران لیدلی دی

نه جنګ وي نه جګړې وي نه مرګ جوبله وي ملیاره
غزل، غزل جهان کې مې خپل ځان لیدلی دی

***

عبدالحفیظ « ملیار »

www.said-afghani.org - بازگشت به صفحه اصلی

---